د لمر له کوره

شعري ټولګه

ډاکټر محمد اکبر اکبر



د لمر له کوره

ډاکټر محمد اکبر اکبر



ډاکټر محمد اکبر اکبر

د لمر له کوره

شعري ټولګه

زما کار او پېژندګلوي

زه د طب ډاکټر او د عمومي جراحۍ په څانګه کې د برتانيې د ايډنبرا د پوهنتون پوســـــت ګرېجويټ سرجن يم او په عملي طب کې کار مې د بېړنۍ څانګې د ډاکټر يا Emergency Physician په توګه کړی او اوس په برتانيه کې اوسم.

زه ورسره د BBC د نړيوالو څانګو دننه د پښتو برخې پروډوسر، براډکاسټر او ژورنالســټ ووم. ما په افغانستان او پښــتونخوا کې د ژورنالېزم د روزونکي او ټراينر په توګه ګڼ شمېر ښځې او نارينه ژورنالســټان، براډکاسټرز او د راډيوپروګرامونو او ډرامو، ليکوالان، لوبغاړي او د ريډيو د پاره د فيچر پروګرامونو ليکوالان او وړاندې کوونکي روزلي او د لـروزده کـړو، طبـي راډيو پروګرامونو او د ماشومانو دپاره د شعرونو، سټيج لوبو او کارټون فلمونو ليکوال يم.

د ولسي پوهاوي او د نشـه ييزو توکو د روږدو په تاوانونو باندې ريډيو ډرامې، ټلوېژن ډرامې او ويډيو فلمونه مې د بي بي سي پښـــتو څانګې، نړيوالو ادارو، ملګرو ملتونو ته جوړ کړي دي او سټيج ډرامه ماته پردۍ نه ده.

د لنډو کيســـو په ليکلو سربېره مې د شعرونو څلور ټولګې خپرې شوي، چې (مراندې، د ګوتو خاپې، لمر شپه او ګل او اتلې هيلې) نومېږي او پنځمه شعري ټولګه مې چې (د لمر له کوره) نومېږي دا ده.

زه ورسره ګڼې ساينســـي، فلســـفي، ټولنيزې، سياسي، ادبي ليکنې او Presentations او څېړنيزې يا د ريســـــرچ ليکنې هم لرم. زه په دې ګروهه (عقيده) يم چې ژبې تر هغې پرمخ نه ځي، څو چې د ژوند غوندې پراخې نه شي او له‌زده کړو واخله تر ساينس، فلسفې، سياست، اقتصاد، سپورټ او له حقوقو واخله تر ادب او سندرو پورې، د ژوند هر ډګر ته و نه غځېږي.

مننه

ډاکټر محمد اکبر اکبر